ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

# د سید خالقداد امید د افسانوي مجموعې "د نینو بټ" تحقیقي جاج

**Research Overview of the Syed Khaliq Dad Umeed,s Short Stories ʿDa Naino Batʾ**

**Shahab Ud Din**[1]

**Suriya Begum**[2]

**Dr. Mazhar Ahmad**[3]

**Abstract**:
*Syed Khaliq Dad Omeed belongs to Malakand and is a famous creator of Pashto literature. He is a famous radio and television singer, actor and playwright. His services regarding Pashto fiction are very prominent and commendable. Apart from children's literature, poetry, comic scripts, serious poems, he has created a great name in Pashto fiction. His fiction has a regional color as well as a reformist color. In this article, the collection of his short stories "The Naino Bat" has been researched.*

سیدخالقداد امید د پښتو ژبې او ادب ستر لیکوال دے. هغهٔ شاعر، ادیب، محقق، طنزنګار، ډرامه نګار او افسانه نګار دے. د پښتو ژبې او ادب په ترقۍ او پرمختګ کښې د دوي پوره برخه او حصه ده. دوي د پښتو او اردو ژبې همه جهت او بشپړ لیکوال دے. دوي د سید میاګل داد کره په کوزه بازدره کښې په کال ۱۹۳۵ء د ستمبر د میاشتې په وړومبۍ ورځ د مالاکنډ ضلعې په یو وړوکي او تاریخي کلي کوزه بازدره کښې زیږیدلے دے. د دوي شخصیت بطور د یو افسانه نګار، ډرامه نګار او طنزنګار په حېث پېژندګلو ته اړتیا نه لري. دوي د ماشومانو د ادب په حواله یوه ستره نامه لري. د ماشومانو له پاره ئې ډېرې قیصې، نظمونه او پروګرامونه لیکلي دي. د سیدخالقداد امید د ژوند په باره کښې شهاب الدین داود خېل معلومات داسې راکوي.

> "د سیدخالقداد امید خپل نوم خالقداد دے. امید ئې تخلص دے دغه امید تخلص ئې د سرسیداحمدخان د مضمون "امید کی خوشی" نه اخستې وۀ. په بازدره کلي کښې په ضلع مالاکنډ ایجنسۍ کښې د میاګل داد په کور کښې په کال ۱۹۳۵ء د ستمبر په وړومبۍ ورځ پېدا شوے دے."[1]

سیدخالقداد امید د یوې علمي کورنۍ سره تعلق لري. د خاندان ډېر مشران او کشران ئې د علم په کالو ښائسته دي. پلار ئې ډېر وخت په کلکته کښې تېر کړے دے. نو ځکه ئې په خالقداد امید باندې هم د تعلیم خواږۀ پئرزو کړل. د سیدخالقداد امید د ژوند تعلیم او ملازمت په اړه شهبازمحمد داسې لیکلي دي.

---
[1] PhD Research Scholar at Department of Pashto, University of Malakand
[1] PhD Research Scholar at Department of Pashto, University of Malakand
[1] Assistant Professor, Department of Pashto, University of Malakand

بازدرو کلیو که یو اړخ ته ادم او درخانۍ زېږولي دي. او د عشق و محبت په دنیا کښې ئې خپلې نامې محفوظې کړې دي نو په بل لور ئې د پښتو ادب جولۍ ته شاعران ادیبان هم پېرزو کړې دي په دغه لیکوالو کښې ځلنده ستورے خالقداد امید هم دے. د پښتو مزاحیه ډرامو هر دلعزیز کردار خالقداد امید د مالاکنډ ایجنسۍ په دغه کلي کوزه بازدره کښې د میاګل داد کره په اول دسمبر ۱۹۳۶ء کښې پېدا شوے دے تعلیم ئې د شپاړسم جماعته پورې حاصل کړے دے. د ادټ افسر په حېث اوس د ملازمت نه ریټائرډ شوے دے."[2]

سیدخالقداد امید یو ځلنده لیکوال دے. ډرامه نګار هم دے شاعر هم دے او د ادیب هم دے. مزاحیه او سنجیده لیکل هم کوي او ورسره ورسره افسانه نګار هم دے. تر دا وخته ئې د افسانو یوه مجموعه "د نینو بټ" په نوم په کال ۱۹۹۹ء د مئي په میاشت کښې چاپ شوي ده. په دې کتاب کښې ټولې دولس افسانې شاملې دي. د دوي افسانې اصلاحي رنګ لري. په دې حقله همېش خلیل داسې لیکلي.

"د دوي ډرامې، افسانې او شاعري د پښتونخوا د کلیواله ژوند ، سادګۍ او قدرتي مناظرو عکاسي کوي."[3]

د سیدخالقداد امید ډېرې افسانې په رسالو او مجلّو کښې هم وخت په وخت چاپ شوې دي.خلقو کتلي دي او خوښې کړې او داد ئې هم اخستې دے. د دوي د افسانو په حقله شهبازمحمد "د مالاکنډ افسانه" کښې داسې رقمطراز دے.

" د دوي افسانې وخت په وخت د پښتو د مشهورو رسالو په وسیله عوامو ته رسېدلې دي. وروستو ئې د افسانو ټولګه "د نینو بټ" په نوم خپره کړه. افسانې ئې اصلاحي انداز لري. د معاشرې د خرابو اصلاح د دوي مرام دے."[4]

سیدخالقداد امید خپل د افسانو کتاب "د نینو بټ" ترون د مور او پلار په نوم کړے دے. د چاپ ځاې ئې محله جنګي ریپډګس ګرافکس پېښور دے. بیعه ئې پینځه دېرشت روپۍ ده. په وړومبي ځل پینځه سوه کتابونه چاپ شوي دي. ټول ټال اته نوي مخونه لري. په دې مجموعه کښې صبرو، ورانې مانۍ، سپېره، پښېماني، پېغور، مات بنګړي، احساس، د نینو بټ، ارمان، داسې هم کېږي، فرض او د خاورو کوټنۍ افسانې هم شاملې دي.دا افسانې ټولې کلیوال ژوند سره تړلي موضوعاتو باندې اړه لري. او د کلیوال ژوند د وګړو د ښه والي له پاره ئې د قلم په ذریعه یو جهادي کوشش کړے دے. د امن ارمان ژن دے. د دوي د دې افسانوي ټولګي نوم هم د دې افسانو نه د یوې افسانې په نوم کېښودے شوے دے. سیدخالقداد امید د خپلو افسانو په باره کښې داسې لیکلي دي.

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

" دلته دا خبره کول مناسب ګڼم چې کېدې شي زما بعضې افسانې به د يو ښه افسانه نګار په تله پوره اونه خېژي. خو زياتې افسانې داسې دي چې د ناظر تنده په پرې يقيناً ماته شي. دا افسانې زما د ځوانۍ يادګار دے خو دا ده چې هره افسانه اصلاحي اړخ لري. نو ځکه ئې د چاپ کولو تريخ ګوټ ته غاړه ږدم."[5]

لکه څنګه چې ظاهره خبره ده چې افسانه ليکونکے يا افسانه نګار په دوه قسمه وي. يو داخل وي او بل خارج. که د افسانې موضوع داخل وي که خارجي. د دې دواړو دپاره د افسانه نګار تخيل بنيادي خبره ګڼلے شي. او دغه څيز ته مرکزي حېثيت حاصل وي. سيدخالقداد اميد پوهه اديب دے. او په افسانه ليکلو کښې ئې داسې مقام لرلے او پېدا کړے دے چې د کمال بام ته رسېدلے او ختلے دے. د دوي دغه صلاحيت مونږ د دۀ په افسانو کښې په اسانه لوستلے او ليدلے شو. دوي په خپل کتاب کښې چې د افسانو له پاره کومې موضوګانې خوښې کړې دي. د هغې سره ئې ښه پوره انصاف کړے دے. د هرې موضوع حق ئې ادا کړے دے. او تر ډېره حده پورې خپلو موضوګانو ته د تخيل رنګ ورکولو کښې کامياب ښکاري ښاغلے اسير منګل په دغه اړه داسې وائي.

" د ښاغلي خالقداد اميد په لنډو کيسو زيات د ډرامې رنګ سور دی او فلمي بڼه لري زياتې يې روايتي کيسې بيان کړې دي د ليک انداز يې بيانيه دی چې څه وايئ په ساده او روانه ژبه يې وايې زيات يې د کلي وال ماحول انځور ګري کړې ده ولې په موضوعاتو کې يې څه نوای والی نه ښکاري او نه يې د فن او تکنيک څه خيال ساتلی دی."[6]

د سيدخالقداد اميد په افسانو کښې اوله افسانه "صبرو" ده چې صبرو د شمروزخان لور ده. په وړوکوالي کښې پرې شبرے مئين شوے دے. دواړو ليدل کتل د کلي په ګودر کښې شوي وي. خو د صبرو د يو بل هلک بازګل سره نکاح اوشي. نو شبرے د خپل ملګري توري په مشوره بازګل وژني. او ځان ته لاره صفا کوي. خو د مرګ نه پس تورے جېل ته لاړ شي او شبرے مغرور شي. په لاره کښې ډاکې کوي شوکې کوي. د کليو اکثر غريبانان خلق چرته لړې په کراچۍ لاهور کښې مزدورو پسې ورک ګرځي. د بازګل د مرګ نه پس سپين ګل سره د صبرو نکاح کېږي او دواړه نه نن لس کاله پس کلي ته راځي. شبرے او نور لس ملګري ئې د ډاکې په غرض په صبرو او سپين ګل حمله کوي. دلته صبرو او شبرے يو بل پېژني او د شبري پخوانے د ګودر وخت رايادېږي چې صبرو به ګودر ته اوبو له راتلله او دے به ئې ديدن ته ناست وۀ. شبرے ځان ګناه ګار حسابوي. معافي غواړي خو صبر ځان د شبري په تماچه ولي او شبري ته د کراچۍ نه راوړے ټول مال پاتي کېږي. د سيدخالقداد اميد د افسانې "صبرو" نو يوه ټوټه رانقل کول ضروري ګڼم.

" بچيه! که پردۍ لور خپلول غواړې نو نشې تماشې به پرېږدې. شبري مور ته اووې، چې هغه به هره نشه پرېږدي. جواري به پرېږدي. هر څه به پرېږدي خو د صبرو

پرېښودل ډېر ګران دي. مور ځوي له تسلي ورکړه. چې هغه به شمروزخان کره بیا ورځي او تر هغې به ځي چې تر څو ورته هغه ښه ونه کړي."[7]

په دغه افسانه کښې د کلیوال ژوند عکاسي شوې ده. چې خلق ئې مزدورو پسې ښارونو ته ځي. پېغلې ئې د ګودرونو نه اوبهٔ راوړي او د کلي هغه بوډۍ شوي ځوانان چې څه کار روزګار نه لري. خپل ژوند عبث په جوارۍ، نشو تماشو تېروي. او بیا ئې انجام ورته هم ښکاره کړے دے. په مجموعي توګه دا افسانه ګټوره افسانه ده او اصلاحي کوشش دے د دې مجموعې بله افسانه "وراني ماڼۍ"ده. چې د تخیل په خوږو لړلې شوې ده. په دې افسانه کښې سلیم جمال شمۍ او نرګس کردارونه دي. خو ټوله افسانه د یو کردار سلیم نه چاپېره چورلي. سلیم په نرګس عاشق دے او د شمۍ د سلیم سره مینه وي. خو نرګس د سلیم نه ډېر نفرت کوي. ځکه چې د دې نه مخکښې جمال نرګس له ډېرې دهوکې ورکړې وي او هغه د نومې انسان نه نفرت کوي خو چې کله نرګس د سلیم سره مینې محبت ته غاړه کېږدي نو شمۍ ورپسې راشي او ورته سوال منت شروع کړي چې د سلیم نه قلاره شي ځکه چې زما ورسره ډېره مینه ده.

سید خالقداد امید دغه ذکر داسې کړے دے.

" او خورې زما نوم شمۍ دے.سلیم زما مینه ده. زما ژوند دے. د هغه هم ما سره مینه ده. زما د تصّور مجنون دے. زما د خیال د ماڼۍ شهزاده. زما کور به وران شي. خورې! زما د خیال ماڼۍ به دړې وړې شي. ما ته زما سلیم واپس کړه. زما سلیم."[8]

سلیم خو نرګس پرېږدي د شمۍ وراني ماڼۍ جوړې شي خو سلیم چې کله په نرګس پسې داسې بیمار شي چې په کټ شي نو شمۍ په نرګس پسې بیا راشي او سوال منت ورته شورو کړي چې د سلیم پوښتنې له راشه مرګي حال پروت دے چې وراني ماڼۍ ئې جوړې شي.

" شمۍ، مینه، زما د سلیم سره مینه وکړه. زما د سلیم په پوښتنه راشه. هغه زړهٔ ته غم اچولے دے، نه څه خوري نه څه څښي، هغه به مړ شي. زما کور به وران شي، خورې! زما د خیال ماڼۍ به دړې وړې شي."[9]

مختصراً دا هم ډېره اصلاحي افسانه ده. په دې کښې د انسان خودغرضي ښودلې ده. چې انسان د رشتو تقدس ته نه ګوري خو خپل غرض په مخه راخسې وي. هغه دلته د احساس خبره وړاندې کړې ده. دغه شان یوه بله افسانه "سپېره" کښې هم د کلیوال ژوند عکاسي شوې ده. د قجیرګل او شېرینۍ د مینې قصه پکښې بیان شوې ده.

چې کله شیرینه اتم پاس د خپل کور نه د سپېره نوم په اوربدهٔ غبېه شي او قجیرګل ورپسې کلي په کلي، چم په چم، مېرو، بازارونو او ښارونو کښې ګرځي خو اخر شیرینه د یوې غټې ډاکټرې په شکل کښې راڅرګنده شي. هلته په ښار کښې پرې ډاکټر مریم د مېډیکل سبق حاصل کړي او دې مقام

حرف و سخن HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

ته ئي راورسوي. ځوچې کله د دوي په هسپتال کښې يو مريض داخل شي نو هغه د قجيرګل پلار تورګل سخت وي. او په وارډ کښې د خوشحالۍ نه ساه ورکړي. دا يوه اصلاحي افسانه ده او مونږ له داسې نه دي پکار چې په يو کور کښې څه کار اوشي او هغه لکه د توهمات لور خور پسې وتړو. د دې افسانې نه يوه نمونه اوګورئ.

" د وخت تيرېدو سره سره د هغه په زړهٔ کښې شيرينۍ مينه نوره ځائيدله. نوره زياتېدله. اوس د هغهٔ مثال د يو سودائي نه کم نه وهٔ. هغه به د ځان سره اکثر لګيا وهٔ شيرينه ربښتيا سپېره وه هغې خو د ځان سره زما ټولې خوشحالۍ هم يوړے. هغه به د ځان سره په ګيله من انداز کښې اووې. ما خو دومره غټ جرم نه وو کړے شيرينۍ تا ئې ما له دومره غټه سزا راکړه."[10]

د سيد خالقداد اميد "د نينو بټ" ټولې افسانې ډېرې ګټورې افسانې دي. ټولې افسانې د خپل پښتون اولس والۍ صحيح عکاسي کړې ده. په دې حقله ښاغلے عبدالقيوم صافي داسې ليکلي.

" زهٔ په خپله د کرنټ افيئرز مات ګوډ ليکوال يم خو خدا ے شته چې ما د نينو بټ هره افسانه ډېره په شوق ولوسته او بې شانه مې خوښ شۀ. "د نينو بټ" هره افسانه د پښتون د اولس والۍ ائينه ده. او اميدصيب د خپلې اولس والۍ صحيح عکاسي کړې ده. زمونږ د کالم لمن ډېره لنډه تنګه ده. کو ما چې څومره اندازه ولګوله "د نينو بټ" هره افسانه د احتساب عدالت مقدمه ده."[11]

د نينو بټ څلومه افسانه پښېماني ده. دا هم د کلي وال ژوند سره تړلې موضوع ده. په دې افسانه کښې د شريف ګل د هغه پښېمانۍ ذکر دے کوم وخت چې هغه په ځوانۍ کښې په تماشو، مېلسونو او وادهٔ ښادو کښې په پېسو نوستلو تېر کړے وي. هغه سره نن د ماشوم زوي ښائسته ګل د دارو او علاج له پاره هېڅ نه وي.هغه که به خپل دوست سليم خان ډېر پوهه کولو کو هغه به نه پوهېدلو او اخر چې سليم ورله ماشوم زوے ښار ته علاج له بوځي او د هغه علاج اوشي نو هغه په خپلو کړهٔ پښېمانه شي.

"د هغه ماشوم ځوي مرګوني حال پروت وهٔ خو اوس د هغه سره دومره څه نه وو چې د ځوي علاج ئې پرې کړې وې. اوس هغه په تېر عمر پسې ډېر ارمان کولو ډېر پښېمانه وهٔ. خو اوس څه کېدې شول. هغه په يو دوست ګرځېدلے وهٔ خو هيچا ورسره لاس اونه کړل."[12]

دا افسانه مونږ ته دا سبق راکوي چې سړے مالدار وي نو هر سړے ئې يار دوست وي خو چې کله پرې بده ورځ راشي نو بيا ورسره دوستان ياران خو پرېږده چې خپل رشته دار هم ځان ساتي لکه د رحمان شعر دے.

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

خپـــل پـــردي پکښـــې معلـــوم شـــي اے رحمانـــه
کلـــه کلـــه د غمونـــو بـــاران ښـــه دے[13]

د نينو بټ بله افسانه "پېغور" ده. دا د ټولو نه اصلي افسانه ده. کردارونه ئې ژوندي دي. داسې ښکارېږي چې دا هر څه زمونږ د وړاندې کېږي يا شوي وي. په دې افسانه کښې د قجيرګل او جميل واقعه بيان شوې ده. د جميل پلار د قجيرګل پلار د اوبۀ خور او پټي په پوله مړ کړے وے او بيا قجيرګل د خپل پلار بدل واخلي د جميل پلار مړ کړي دغه شان څوارلس کاله پس نن د قېد نه راازاد شي او چې کلي ته راشي نو اوس ورسره دا غم وه چې جميل به اوس ما وژني او بدل به اخلي. جميل ته مور وائي چې بدل خلاص شو. خو جميل وائي چې ما ته به خلق پېغور راکوي چې څنګه پښتون ئې د خپل پلار بدل نه شې اخستے. لکه د افسانې نو دا يوه ټوټه اوګورئ.

"جميل سر راوچت کړۀ او نېغ اودرېدۀ مورې تۀ دا غواړې چې زۀ دې په همزولو کښې
کوز سترګې شم او دا دې زما دپاره د عمر پېغور شي مورې دا نه شي کېدې."[14]

دا افسانه مونږ ته دا سبق راکوي چې مونږ له پکار دي چې په کلي کښې په چړک چړګوړي، پوله پټي او راشه درشه يا نورو وړو وړو خبر هيڅ بې هيڅه قتلونه نه کوو څکه چې بيا دغه دشمنۍ او تربګنۍ تر عمره عمره نه خلاصېږي. د کليوال ژوند عکاسي پکښې ښه او په ښکلي انداز کښې شوې ده. د کلي هر سړے تاوې ماوې ته ناست وي. د بل په کار کښې کار ساتي. خپله درنه او د بل سپکه وائي. نو څکه اکثر خلقو ته پېغورونه جوړ شي او انجام ئې ډېر خراب وي. د دې افسانې ليکلو غرض هم دا دے چې هغه د يوې صالحې او ښکلي معاشرې ارمان ژن دے بله افسانه "مات بنګړي" ده. دا هم يوه ډېره اصلاحي افسانه ده. د کلي وال ژوند يو ناکاره او ډېر سپېره رسم ئې په ننښخه کړې دے. چې رحيم ګل مسافر وي او خپل ځوي له ډېرې پېسې اوګټي وادۀ ئې جوړ شي خو ځلمي هلکان په جنج کښې دومره ډېرې ډزې وکړي چې ناوک پکښې مړ شي.او وادۀ په غم کښې بدل شي. او دغه شان ناوې له راوړي ټول بنګړي مات شي. د مسافرۍ نه په راتلو چې د زوي د غم نه خبر شي. نو د لاس نه ئې غوټه ارتاؤه شي او دننه بنګړي پکښې ټوټې ټوټې شي. په دې افسانه کښې هم د کلي وال ژوند يو ناکاره رسم باندې نيوکې شوي دي.

دغه شان په يوه بله افسانه "احساس" کښې ئې مېرنۍ مور ته او جميل ته دا احساس ورکړے دے چې يوائې خپل اولاد د انسان پکار نه راځي بلکې د مېرني اولاد هم په مور يا پلار حق دے پکار ده چې مور او پلار دغه احساس په زړۀ کښې ولري چې مېرني او سکه بچي يو شان وګڼي او يو شان او برابره مينه ورله ورکړي. په دغه افسانه کښې د جميل مور د مېرني زوي سليم سره ناروا سلوک کوي او چې کله خپل سکه زوے جميل ئې مرګي حاله پرېږدي او سليم ورله علاج وکړي نو هله ورته احساس وشي. چې واقعې په مېرني او سکه بچو کښې فرق کول نه دي پکار. په دې افسانه کښې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

هم کلیوال رنګونه بربنبي ځکه چې په کلیو کښې اکثر سړي داسې وکړي چې ئې مړه شي نو بل وادهٔ وکړي او اولنۍ ښځې اولاد ئې اکثر چرسیان پوډریان جوړ شي نو د ملک دپاره ناسور شي. په دغه خلقو ئې نیوکې کړې دي. د "احساس" افسانې نه یو ټوټه رانقل کووم.

" زما دا خیال وهٔ چې جمیل زما خپل بچے دے او ته مېرنے خو زهٔ په غلطه ووم، زما خیال غلط وهٔ. زوزاد هغه دے چې نېک عمله وي. د بد عمله اولاد نه نهٔ اولاد ښه دے."[15]

د نینو بټ " اتمه افسانه هم دغه "د نینو بټ" په سرخط باندې لیکلې شوې ده.په دې افسانه کښې امیدصیب مونږ ته د غریبۍ د ژوند ناکړدۍ بیان کړې دي چې ماشومان اکثر د غریبۍ د لاسه در په در شي او اخر داسې پکښې هم اوشي چې مور او پلار په دغه بچو باندې سبق پرېږدي او سوال پرې شورو کړي ځکه چې دغه وخت دوي باندې ځوک مزدوري نه کوي. دا افسانه هم د یو بټیاري قجیرګل د ژوند یو واقعه بیان شوې چې پوډر ځښې نو ماشوم زوي ورله په ښار کښې خبر غواړي خو د هغه ځوي د ښار یو خان په دې غرض ځان سره بوځي چې زما نارینه اولاد نیشته. په دهٔ به تعلیم حاصل کړم او د مال جائیداد وارث به ئې کړم خو هلته د خان ورارهٔ د دغه نثار ماشوم سره داسې اړیکې راواخلي چې ماشوم د دغه ځایه بې درکه شي. او یو کلي ته راوتختي او د بل دهقان سره اوسېږي. نن چې د نینو بټ له راشي نو د بټیاري پرې سترګې خوږې شي او داسې ورته ښکاره شي چې دا مې ځوے نثار دے او ما ته مخامخ ولاړ دے. خو ځکه ئې اونه پېژني چې ځوارلس کاله مخکښې دغه ماشوم بې درکه شوي وي. او چې کله بټیاري خپله قیصه وکړي نو دواړه یو بل اوپېژني او په ژړا ژړا یو بل ته ورترغاړه اووځي. دا یو اصلي افسانه ده. کره وړه ئې ټول د افسانې دي. "د نینو بټ" د خپلې موضوع له مخه ډېر د اهمیت وړ افسانه ده. چې پکښې افسانه نګار یوه ډېره اهمه انساني مسئله چېړلې ده. د دې افسانې محدود پلاټ، ښائسته سوچه ژبه، موثره قیصه، مناسب کردار نګاري او مناسب انجام ئې ورله جوړ کړے دے ځکه چې د افسانې انجام معلوم نه وي خو ولې داسې ځاې باندې افسانه اودرول چې انجام په خپله معلوم شي. د دې افسانې د لوستلو په وخت قاري د اسوېلو، ژړا او اوښکو تویولو سره مخ کېږي. او که داسې اونه شي نو د شدید درد احساس ورته ضرور ورسي. ځکه چې دا یوه داسې موضوع چېړلې شوې ده چې بالکل حقیقت ته نزدې ده. د دې افسانې نه یوه ټوټه رانقل کوم چې د قاري تنده په لوستلو ماته شي.

"زما د خلې نه ډېرې فریادې چغې وختلې زما د حال نه یو خدائے خبر وهٔ. ما هیڅ نه شو کولې. زما د ژوند هغه اخري بخرے هم مړ شهٔ او زهٔ لکه د ړوند په ټکرو سر ووم ډېر مې وژړل خو بې فائدې د هغې کلي نه دلته راغلم د نینو بټ مې جوړ کړو او د ژوند دا ترخې ورځې پرې تېرووم. دا وخت د نثار په سترګو کښې غټې غټې اوښکې راغلي

هغه بېپارې ته ورترغاړه وتو ټول خلق حېران شو! داجي زۀ ستا ورک شوے زوے نثار یم."[16]

د نینو بټ" هرې افسانې له داسې موضوع خوښه کړې شوې ده چې لوستونکے په دې مجبوره شي چې دا افسانه خواه مخوا لوستل غواړي. د دې کتاب بله اهمه افسانه "ارمان" ده. په دې افسانه کښې هم د نظرګل د ژوند یوه اهمه واقعه بیان شوې ده چې په سترګو ړوند دے. د مال جائیداد مالک دے ملک دے خو خدائے ورله په اولاد کښې صرف یو ځوے او اووۀ لوڼه ورکړې دي. نن ئې د زوې د وادۀ پوره کال شوے دے. هغه به هر وخت دا سوال کول چې خدایه زما دغه یو ارمان وے چې الله پاک ما له نارینه نمسے راکړې ځکه چې که زۀ په سترګو ړوند یم پرواه نیشته خو چې کله راته نمسے په خپله خلۀ او تنکۍ ژبه بابا اونه وائي چې کله ورله الله پاک رحیم ګل نمسے ورکړې اه هغه ورته کال پس بابا! بابا! اووائي نو دے بیا د ښار په روغنتون کښې داخله واخلي او نظر ئې هم ټیک شي او په خپلو سترګو رحیم ګل نمسے اووینې.

د دې افسانې ژبه سوچه او پښتو ئې روانه او اسانه ده. لکه دا چې

" نظرګل کاکا د سردرې کلي یو لوئے ملک وۀ. ښه شته من او د ډېر مال هال خاند وۀ خدائے پاک ورله اووۀ لوڼه او یو ځوے ورکړے وۀ. ځوې ئې وادۀ کړے وۀ خو نارینه اولاد ئې نه وۀ. نظرګل کاکا په هر څه ښه پوره وۀ. خو که نیمګړے وۀ نو صرف د زوې په اولاد. څه وخت چې به هغه ځان له ناست وۀ او په خپل ژوند به ئې غور کولو نو دا ارمان به ئې ناڅاپي لکه د ازغي په زړه ورښخ شۀ او خفه دلګیر به کېناستۀ."[17]

د دې افسانوي مجموعې بله افسانه "داسې هم کېږي" په موضوع لیکې شوې ده. سلیم د یوې لېونۍ مور ځوے وي. د نن نه پنځلس کاله مخکښې ورله خپل ترۀ شریف خان په دې وجه د پشکال په راغلي تېز خوړ په غاړه دیکه ورکړې وي چې دے به خوړ یوسي او مال جائیداد به ما ته پاتې شي ځکه چې د شریف خان ورور مړ وي او دغه یو ډکے سلیم ترې پاتې وي. خو د خدائے کارونه ګوره چې سلیم خان بچ شي او په ښار کښې د میډیکل تعلیم حاصل کړي او ډاکټر جوړ شي. د سلیم په جدایۍ کښې مور لېونۍ شي. هر وخت د ځان سره د سلیم د جامو پنډ په سر ګرځوي. خو چې نن د شریف خان ځوے ډېر سخت ناجوړه وي او ښار ته ډاکټر پسې لاړ شي نو سلیم خپل ترۀ اوپېژني. خو چې ډاکټر کلي ته راورسي نو د شریف خان زوے جمیل مړ شوے وي. کله کله داسې هم کېږي چې مونږ د بل د وژلو کوشش کوو په خپله پکښې راګېر شو. سید خالقداد امید په دې افسانه کښې ډېره اهمه موضوع "تربورولي" چېړلې ده. او دا ئې په ډاګه کړې ده. چې د ورور اولاد د خپل اولاد نه کم ګڼل نه دي پکار. لکه دا اوګورئ.

"بچيه! زما په سترګو د تربورولۍ د حرص پردې پرتې وې. زما نه ډېره غلطي شوې ده. زما نه هډو دا هېر وو چې تربور خو متې وي. تربور خو د ورور ځوے او د ترۀ زامن وي. په هر غم او دړد کښې پکارېږي. خو مونږ پښتنو ورله د دشمنۍ نوم ورکړے دے."[18]

خو چې کله ئې خپل زوے مړ شي نو بيا ورته دا احساس اوشي چې هر چا ته د خپل عمل سزا مېلاوېدے شي. د اميد صيب دا افسانه يوه شاهکاره افسانه ده. په دې کښې هم کليوال رنګ دے. ځکه چې د کلي سپېره او اوزګارخېل خلق هيڅ کار روزګار نه لري خو بس دغه د يو بل وينو ځکلو ته ناست وي. دا خبره ئې هم په ډاګه کړې ده چې د ازار نه چا بازار نه دے موندلے. د افسانې اختتام ئې د رحمان بابا په دې شعر کړے دے.

"ادميـــــان پـــــه مثـــــل واړه يـــــو صـــــورت دي
ځـــــوک چـــــې بـــــل ازاروي هغـــــه ازار شـــــي"[19]

د دې مجموعې بله اهمه او ضروري افسانه "فرض" ده. چې کله سليم خان يو ډاکټر جوړ شي او هسپتال کښې ډيوټي کوي نو يوه ورځ کور ته رادننه شي او مور ته وائي چې مورې نن مې ډېر ضروري اپرېشن وکړۀ. يو هلک خپل ترۀ ويشتلے وۀ خو خبر بچ شۀ. مور چې د سليم دا خبره واورېده نو خپل مړ خاوند ورياد شي چې د ورارۀ د لاسه دغه شان د ټوپک په ګولۍ لګېدلے وي.او سمدستي مړ شي. د مور په ژړا سره سليم د خپل پلار د قاتل نه بدل اخستلو دپاره په وجود کښې وينه په جوش کښې راشي. خو مور ئې منع کوي چې زۀ دا نه غواړم چې دشمني دې نوره سبوا شي. ځکه چې ستا د پلار قاتل مړ دے او د هغو د بچو په دې کښې هيڅ ګناه نه وه.هغه که ستا پلار وژلے دے نو زامن خو ئې ستا د ترۀ زامن دي. ستا د پلار د ورور بچي دي. خپل زوے د غلطې پښتو نه منع کوي.

" بې شکه ته پښتون ئې. ولې چې ستا پلار پښتون وۀ. خو زۀ به تا له هيچرې د داسې غلطې پښتو اجازت درنکړم چې هغه د اسلام نه غېر وي. که چرې ستا د پلار قاتل ژوندے وے نو بې شکه نن به ما تۀ دومره نه وے مجبور کړے. ولې هغه مړ دے او پاتي شوه د زوي خبره نو د پلار په ګناه هغه خدائے نه نيسي نو زه څنګه تا له اجازت درکړم چې ته په شريف خان لاس اوچت کړے. تا تعليم حاصل کړے دے ستا په پښتو او د بې تعليمه په پښتو کښې فرق پکار دے."[20]

دغه شان يوه ورځ شريف خان ډېر سخت ناورغه وي خو چې کله هسپتال کښې په وارډ کښې داخل شي نو بختوره د شريف خان مور د سليم مور ښائسته خانم له په پښتو پريوزي. معافي ترې غواړي چې مونږ ډېر بد کړي دي. زما د ځوي علاج وکړي او دغه شان سليم د خپل پلار د قاتل د کور د

مرګي حاله مريض علاج کوي او خپل فرض سر ته رسوي او خپله پښتو شا ته غورځوي او افسانه انجام طرف ته ورنژدې کېږي. په دې افسانه کښې د کليوال ژوند هغه اړخ بيان شوے دے چې د معمولي خبرې نه بيا د عمرونو دشمني جوړه شي. او بيا پکښې ډېر مشران ځوانان او ښځې بې ګناه وژلې کېږي. دا يوه اصلاحي افسانه ده. او تر اخره پکښې سسپنس سته دے چې په افسانه کښې ئې حېرت او دلچسپي پېدا کړې ده. او لوستونکے په مزه مزه د افسانې د انجام په لور بيائي ځکه نو دا يو ډېره کاميابه افسانه ګڼلے شي.

د دې مجموعې د نينوبټ يو بله اهمه، ضروري او اخري افسانه " د خاورو کوټنۍ" ده. دا يوه اصلاحي افسانه ده. دا افسانه داسې ښکاري چې دا ئې د ماشومانو د اصلاح او پوهې له پاره ليکلې وي ځکه چې يو خو پکښې کردار هم د ماشوم دے او بل په معمولي رشوت اخستلو ضميرګل هم د جېل د تورو تمبو نه شا ته ژوند تېروي. خو نن چې ضميرګل په جېل کښې قېدي دے نو د ځان سره لګيا دے چې که زۀ يو ځل د دې تورو تمبو نه بهر شوم نو بيا که سپوره وي که توره وي د خپلو بچو سره به د خاورو په کوټنۍ کښې ښه په ارام وخت تېروم زما بياد پلار نيکۀ توبه ده چې رشوتې اخلم او ځان له بنګلې جوړوم ما له دغه د خاورو کوټنۍ د هر څه نه ښه ده.

> " ضميرګل يو سوړ اسوېلے اوکړۀ هغه ته خپل د پلار هغه نصيحت هم را ياد شۀ چې ضميرګل ته به ئې بيا بيا کولو بچيه د حرامو نه ځان ساته د حلالو په لټون پسې ګرځه مزدوري او خواري کوه. ولې ضميرګل کله منل هغه د پېسې په نشه داسې مست وۀ چې د هغه نه هر څه هېر وو."[21]

په مجموعې توګه مونږ دا وئيلے شو چې خالقداد اميد يو ستر افسانه نګار دے. د هغوي د افسانې رنګ ټول اصلاحي دے. کردارونه ئې هم کليوال رنګ لري. لکه شېرے، صبرو، ضميرګل، تورے، شمۍ، قجېرګل، شېرينۍ، ګل بي بي او نظرګل. دغه شان د افسانې ټول واقعات ئې د کليوال ماحول سره سمون خوري بنده داسې محسوسوي چې په نژدې کليو بانډو کښې روزانه داسې واقعات پېښيږي. په هره افسانه کښې د عنوان يا سرخط اغاز، د کردارونو مکالمې، منظرکشي او د انداز بيان ئې دلکش موثر او جاذب دے. چرته هم په ټوله مجموعه کښې ناشالسته لفظونه په استعمال کښې نه دي راغلي. بله دا چې هره افسانه کښې ئې د اختصار نه کار اخستې دے ځکه خو داسې ښکاري چې غټ مقصد ئې د شمار په يو څو ټکيو کښې بيان کړې دي. عنوانات ئې هم داسې دي چې زمونږ د روزمره ژوند د عامو واقعاتو سره سمون خوري. بس په لنډو ټکيو کښې مونږ داسې وئيلے شو چې د افسانې د ليکلو حق ئې ښه پوره پوره ادا کړے دے. او د هرې موضوع سره ئې تر ډېره حده انصاف کړے دے. داسې ښکاري چې ډېرې افسانې ئې حقيقت وي. ژبه ئې سوچه، روانه، خوږه او رنګينه ده. ماشومان، ځوانان او بوډاګان د هر عمر لوستونکي ترې مستفيد کېدې شي. د دې کتاب نوم " د نينوبټ" ځانته يو بشپړه افسانه ده. او ورسره نورې ټول ټال يوولس افسانې شاملې دي. د ټولو

افسانو نومونه تر ډېره حده موزون او مناسب دي او د دي نه دا څرګندېږي چې افسانه نګار د خپل چاپېرچل او ماحول ژوره مشاهده لري او په هر قسمه واقعاتو ئې پوره پوره نظر دے.

حوالې

[1] داودخېل، شهاب الدین، د سیدخالقداد امید د نظم ګوئۍ فني او فکري مطالعه، د ایم فل تحقیقي مقاله، علامه اقبال اوپن یونیور سټي اسلام اباد، ناچاپ مارچ ۲۰۱۰ء، مخ ۱۵

[2] شهباز محمد، د مالاکنډ افسانه، مالاکنډ، تانه، نغمه زار، اداره مطبوعات، ۲۰۲۰ء، مخ ۵۳

[3] همېش خلیل، پښتانه لیکوال، دوېم ټوک، پېښور یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۱ء، مخ ۹۴

[4] شهباز محمد، د مالاکنډ افسانه، مخ ۵۴

[5] امید، خالقداد، سید، د نینوېټ، مشموله، سریزه، زما افسانې، پېښور، محله جنګي ریپډګس، ګرافکس، مئي ۱۹۹۹ء، مخ ۷

[6] اسیر منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، پېښور، دانش خپروندویه ټولنه، اکتوبر ۲۰۱۳ء، مخ ۱۳۷

[7] امید، خالقداد، سید، د نینوېټ، پېښور، مخونه ۱۲ـ۱۳

[8] همدغه اثر، مخ ۲۲

[9] همدغه اثر، مخ ۲۵

[10] همدغه اثر، مخونه ۲۸ـ۲۹

[11] احمد، صلاح الدین، روزنامه سرخاب، مشموله، عبدالقیوم صافي، د خالقداد امید د نینوېټ، جمعه المبارک، ۲۹ستمبر ۲۰۰۰، جلد نمبر۹، شماره نمبر ۳۴۳، مخ ۵

[12] امید، خالقداد، سید، د نینوېټ، مخ ۳۶

[13] مومند، دوست محمدخان، کامل، قلندر مومند، د رحمان بابا کلیات، کابل، افغان پرنټرز، س ن، مخ ۳۶۹

[14] امید، خالقداد، سید، د نینوېټ، مخ ۴۴

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

15 امید ، خالقداد ، سید ، د نینوبټ، مخ ۶۳
16 همدغه اثر، مخونه ۷۰ـ۷۱
17 همدغه اثر، مخ ۷۳
18 همدغه اثر، مخ ۸۳
19 مومند ، دوست محمدخان، کامل، قلندر مومند ، د رحمان بابا کلیات، مخ ۳۰۷
20 امید ، خالقداد ، سید ، د نینوبټ، مخ ۹۰
21 همدغه اثر، مخ ۹۷